# پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز کوند خپرونه


۶ مه ګڼه   نوامبر ۱۹۸۹ کال

Jahrgang./Vol.:1989 /3  Nummer/No.: 6


# Pakhtoonkhwa

## ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN - Paschtunchwa/ Afghanistan

## ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) -Pashtoonkhwa/ Afhanistan


www.pashtoonkhwa.com

pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net

V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

DR. KABIR STORI

HÖNINGER WEG 63

5000 KÖLN 51   WEST GERMANY



Editorial Board/Redaktion

ALI KHAN MASEED

HIDAYAT BANGASH

MUBARIZ  SAPI

GULGHUTAI KUNARAI




# پښتونخوا

د پښتنو دیموکراتیزو اولسولیزو ګوندخپرونه

ټوک ۳ ګڼه ۶

نومبر ۱۹۸۹

JAHRG.-/ VOL Nr./No

# PASCHTOONCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

## سرلیکونه

| مخ | |
|---|---|
| | |


د افغانستان حالات 1
پښتو او پښتونولي مکمل ضابطه حیات ده ۴
غمرازي ۸
لنډۍ او روانه ګرېدنه ۹
خوا خوږي ۱۳
لوی زړی ۱۴
پښتون څوک دی؟ ۱۶
د هیواد نامتو څیري ۱۹
ګلونه ټکلونه ۲۱
د لرغونتوب بشکلوونکي ۲۲
مستي ۲۳



خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTOONEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار: ډوکتور کبیر ستوری

V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL.(0221) 360 2472



د خپرونې جرګه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنګش
MUBARIZ SAPI مبارز ساپی
GUL GHUTAI KUNARAI ګل غوټۍ کونړۍ

د امتل د برابرۍ او مساوات ثبوت ورکوي .

۲ "غږ که لوئے دے . په سر ئے لار ده "

یعنې د پښتنو په معاشره کښې هیڅ څوک هم د قانون نه بالاتر لیشتے .

۳ "چه بد کړے بد به پرے ئے "

۴ "چه ښه کړے ښه به رسیږے "

د ډنګ نور ډیر متلونه موجود دي .

وفا ، هینه ، پت ، زړه ورتیا ، میرانه ، ښیګړه ، انصاف ، او میلمستیا

د پښتنو مشهور صفتونه دي . تله ځکه چه د لفظ "پښتون" د جوړه نه

یعنې پ ، ښ ، ت ، و ، ن نه په دے شان جوړه ده .

"پ" نه مطلب پت دے ، چه پښتون یو ځل چا ته دوست یا ورور ووائي .

تر مرګه دا دوستي او وروري جاري ساتي .

"ښ" نه مطلب ښیګړه . هر پښتون د بل انسان سره نیکي لومړنۍ

کول خپل نصب العین او د زړه تسکین ګنړي

"ت" مطلب توره ده . د پښتون میړانه او زړه ورتیا ټوله نړۍ کښې

مشهور لري . او پښتون د ډیر زوره ور او برلاسے دښمن په وړاندې

په ا سانه سر نه ټیټوي .

"و" نه مطلب وفا . پښتون خپل لوظ او وعده پوره کول ډیره ضروري

او اهم ګنړي . بے وفائي او بے لوظي ورته لوئے شرم او ګناه ښکاري .

"ن" نه مطلب ننګ . په خپل ملګرې او خپله خاوره ننګ کول د پښتون بنیادي اصول دي .



خپله برخه واخیسته . ملا . نائي . کلال ، لوهار ، ترکان ، موچي غرض دا چه

ټولو کسب ګرو چه د ټول کلي او لسي کسب بدئ کولو خپله خپله برخه واخیسته

د کلي مشر یا سپین ږیري به د عزت او احترام جوګه ګنړلے شوا و هغه به په رښتیا

او ایماندارئ د خلقو منزه ګړے او منصف وو . د کلي او علاقے فیصلے به دے

قامي مشرانو په ګډه کولے . دے ته به ئے قامي جرګه وئیله . د پښتنو په ډیرو

علاقو کښې دا جرګے اوس هم کیږي . دغه رنګ د لوخاندان ټول غمري په شریکه

لوکور کښې اوسیدل . او د دے ټولو خوړل څښل او اغوستل یو رنګ وو .

د پښتنو معاشرے خپل ښه روایات وو . او هغه اوس هم دي . اګرچه څه موده کیږي

چه دا روایات د خارجي یرغلو لوپه وجه تر څه حده خوړیدلے دي . زمکه جائیداد

افراد ته مخصوص شوي ده . یعنې ملکیت ذاتي ګرځولے شوے دے . اګرچه

د خاندان په توګه اشتراکي طرز ژوندون لا تر اوسه جاري دے . خو

اصلي پښتنو او پښتونولي ډیره تکه موندے شي . ولي چه پښتنو په

ثقافت ، ژبه او ورو او د اولسي ژوند په قاعدو کښې مسلسل حمله او زور

له خرا ګړون شوے دے . او د پښتنو اصلي حسته ئے تر ډیره حده

بدله کړي ده . او د پښتنو په ډیرو لږو علاقو او قبیلو کښې د پښتنو اصلي

رواجونه سالم پاتې دي . خو د مشرانو د خولے چه قصے واورو او د پښتنو

بے شمیره متلونه چه را ټکلني کړو . لوی دے نه د پښتنو د اشتراکي

ژوند او جمهوري طرز زندګۍ ثبوت تر لاسه کیږي . وو متلونه "

۱ "جرنده که د بلار ده . خو په وار ده "



اګرچه د پښتون دا اوصف په ډیرو لږو پښتنو کښې اوس موندے شي . ځکه چه

د خارجي ثقافت یرغلگرو او د استعماري سازشونو د شعوري زیار له کبله د پښتنو

د ثقافت د بدلیدلو او ناولی کیدلو کوشش روان دے . او د پښتون قوم د

ختمیدلو او ورو کولو کوششونه جاري دي او دغه وجه ده چه د دښمنانو

پښتون قوم په لر او بر ، منزے او سویلي ټکلور برخو ویشلے دے . او ډیر

پښتانه په دے هم نه دي خبر چه په سمهالئ نړۍ کښې موږ په خپل اصلي

یعنې د پښتون په نوم څوک نه پیژني . فارسي خوان یعنې ایرانیان موږ

ته افغان وائي . عربیان هم موږ ته افغان وائي . انګریزان او هندیان

را ته پټهان وائي . اګرچه په اصلیت کښې موږ پښتانه یو . ځکه چه پښتنو

او پښتون د یو بل سره تړلے دي . په کار دي چه د نړۍ ټول قومونه

په خپل اصلي نوم او پیژني . زمکه یعنې علاقه ځمونږ ډیره لویه ده کوم یائے

امو نه تر جهلم او د چترال نه تر بولان ( کویټه ) پورې یوه ستره پښتونخواه لرو

خو د بد قسمتۍ نه په خپله خاوره خپل واک او اختیار نه لرو . اګرچه د

ژوند قدرتي وسیلے ځمونږ ډیر زیات او بې پروانه دي . یعنې ډیرے اوبه

ډیره بجلي . ډیر قیمتي معدنیات ، ځنګلات ـ او ډیر ښه پیداوار ی

زمکے لرو . خو د خپل حق نه تر اوسه پورے محروم پاتې یو . خو د خبره دا خوشالئ

ده چه نن زلمي باشعوره دي . دوی ته د خپل ذات ، قسمت ، قیمت او اهمیت احساس

شوے دے . د لر او بر ، غر او سمے پښتون ټول یو ملي سوچ او شعور لري . او د

خپلے خاورې خپلواکۍ او خپل اختیار غوارې . او انشاء الله تعالی هغه ورځ لرې نه ده

چه پښتانه به هم د نړۍ د نورو خوش بخت قومونو په رنګ د آزادۍ او خپلواکئ مزه



خپل کړي . او پښتو پښتونولي په خپل اصلي شکل ( حسنه ) کښې د نړۍ

د نورو قومونو د توجه او تقلید مثالي نمونه شي . په آخر کښې په دُه


د وایم :-

پښتو وایه پښتو خپله کړه پښتونه !

چه هم دغه د هم دین او هم دنیا ده .

## غمرازي

1 . د بلوچو نامتو مشر او د پاکستان نیشنل پارټۍ صدر او د بلوچستان بخوانے ګورنر میر غوث بخش بزنجو د ۱۹۸۹ عیسوي کال د اګست د میاشتے



میر غوث بخش بزنجو

په یولسمه نیټه د کراچۍ په یو روغتون کښې د ځګر د سرطان د ناروغۍ د عمله په حق ورسیده . میر غوث بخش بزنجو په ۱۹۱۷ عیسوي کال کښې په خضدار کښې زیږیدلے وو . لومړي تحصیلات ئے په خضدار کښې او لوړه لیکوالي په علیګړه کښې سر ته رسولے وه . بزنجو د انګریزانو په مقابل کښې د بلوچ د آزادۍ د پاره سختې مبارزے کړي او څو ځله ئې جیلونه تیر کړیدي د PSDP د خدای بخښلي میر غوث بخش بزنجو روح ته دعا کوي او د هغه د کورنۍ او خپلوانو سره خواخوږي ښکاره کوي .

۲ - په خفګان سره خبر لاس ته را وړي دی چه د روان کال د نومبر د میاشتے په لومړۍ ورځ کښې ناصر خان زماني چه یو نشاپالی پښتون وو د نادر خان زماني حي د بری پښتونخوا د کونړ یو پیاوړی او نامتو سمر یتوب و څو ورځې په ذهرو وژل شوي دي . ناصر خان زماني د ستمه په لوآباد کښې بخیله پلار رنے هدیره کښې په دروانو اولسي مراسمو سره خاورو ته وسپارل شول PSDP د دی روح ته دعا کوي او کورنۍ سره همدردي او خواخوږي ښکاره کوي

لیکونکې ستوری

# لنډۍ او روانه ګړېدنه

د لنډیو پواسطه سړی د روانې ګړېدنې توان (بلاغت) اندازه کولی شي د دغه توان خاوندان بې دستورۍ ځنګه ګړېدي خبرې او وینا کولی شي او څرګنده ده لنډۍ ځکه چې پدې موضوع ورکړې شوې ګاټه ده چه څپله لنډیو ته یو ځغلند کتنه وشي -

**د لنډیو پېژندنه** (تعریف): لنډۍ یو بېته شعر دی چه لومړی مسری ئې نهه او دوهمه مسری ئې دیارلس سیلابه ده. او په پای کښې هـ (۵) راځي. (۱)

که څه هم ځینې لنډۍ د ځینو کسانو د لومړیو سره تړلې دي لکه د الندړۍ چې د پښتونخوا د ستر فیلسوف غني خان د لوم سره تړلې ده -

څانګه به نن سبا کښې ګل شي × مالئې په سر کښې سرې غوټۍ لیدلې دینه

او یا د النډۍ چه د ملالۍ په نوم یادیږي.

که په میوند کښې شهید نه شوې × خدایګو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

خو چیله غني خان او هیڅوک دا دعوه نه کوي چه دغه یا هغه لنډۍ ئې جوړه کړې او دوه معنوي تولید دي او که معنوي تولیدئ وي هم نو د پښتني ټولنې تر ټولو تجسلی او د پښتني ټولني ګډه پانګه ده - لدې کبله لنډۍ ته بې شاعره شعرونه هم بې ځایه نه دي - لنډۍ ځانله هم ویل کېږي. او په لوکو کښې (چې په ادبي پوهنیزه ژبه کښې ورته سروکې وائې) هم وراچول کېږي.

کله چې لنډۍ ځانله ویل کېږي نو د ټپې په نامه یادیږي او کله د لوبې (سروک) سره یو ځای شي نو بیا د تکي په نامه یادیږي.



**د لنډیو تاریخ** : د پښتني ټولنې منځ ته راتګ د لنډیو د پیدایښت نیټه ده. دا چې پښتنه ټولنه کله منځ ته راغلې ده او پښتانه د څه وخت راهیسې د نړۍ په سر شته دي؟

د انساني ټولنې د ودې د تاریخ په ګښتون کښې د پښتنو د جرګې د سیستم په مرسته چې د پښتنو لویې لښت دی او اوسني پرې موږ ډیرې خپلې ربړې او چارې په پښتونخوا کښې سموو، اټکل کیدلی شي. که چیرته د نړۍ په سر د انساني ټولنې د ودې تاریخ ته نظر واچوو نو به وبیني چې د جرګې سیستم د لومړنیو (ابتدائي) انساني ټولنو یعنې هغو ټولنو (Gentil Society) چه طبقې پکښې موجودې نه وې محصول دی - د دې خبرې په تائید کښې اینګلس (Engels) د مارګن (Morgen) په حواله سره د ایروکیزن (Irokesen) د سینیکاس (Senekas) قبیله را په ګوته کوي چې د جرګې سیستم ئې درلود (۲) دا ددې مانا لري چې پښتنه ټولنه او پدې توګه پښتون اولس د انساني ټولنې د ودې د لومړني پړاو راهیسې موجود و - خو له بده مرغه د پښتنو لرغونی تاریخ نه دی څېړل شوی. دا سې بریښي چې پښتونخوا د اسیا په زړه کښې د مدنیتونو (Civilization) ځانګړ او ټاټوبی و چې د نړۍ په نورو مدنیتونو او کلتورونو ئې اغیزه کړېده او هم ئې ورسره تګ راتګ راغلی دی. پدې لړ کښې د پښتنو د جرګې د سیستم د نه دې برانې شوي او لښپېړې شوي. او غیرې مرکزي خوی ئې غوره کړی دی چه هغه دی دغه سیستم ته تر اوسه پورې تړونه ورکړی او د طبقاتي ټولنو په منځ ته راتګ سره لکه د نورو هغو ټولنو د جرګې د سیستم په شان د منځه نه دی تللی او ځای ئې سټیټ (state) نه دی نیولی



د پښتنو په لوی تاریخ کښې هم تاریخ پوهان په پښتونخوا کښې لوی بدمانۍ مدنیت را په ګوته کوي - د اسلام څخه د مخه چه په پښتونخوا کښې د پښتنو د کوشاني او یفتلي قبیلو باچاهي او دوران و او پښتانه بودائي مذهب و نو د پښتني مدنیت او د پښتو ژبې پلوشې هم د ایران د لغمان (بیستون) پورې رسېدلې وې - عبدالحي حبیبي. (۳)

د معین په حواله سره لیکي چه د ایران د لغمان په غزه باندې د میلاد څخه ۲۸۶ کاله د مخه یو ډبر لیک کیندل شوی دی او په دغه ډبر لیک کښې ۱۵ د پښتو شعر په میخي لیک لیکل شوی دی -

نې اړی کوم — Ne a ri Ka a hum

نې دروه جناوم — Ne drau Ja na a hum

نې ځورکاره اوم — Ne zura Ka ra hum

که چیرته د پښتونخوا غرونو رغونو کښې پراته تاریخي اثار ټول وڅېړل شي نو کیدای شي چه د پښتنو د لرغوني تاریخ په هکله ډیر ثبوتونه پیدا لاس ته راشي او د پښتنو لرغوني تاریخ به رابرسیره شي. او پدې توګه به د لنډیو تاریخ چې د پښتنې ټولنې د تاریخ سره تړلی دی هم روښانه شي -

**د لنډۍ د روانې ګړېدنې (Fluency) د تللې په توګه** : روانه ګړېدنه د شخصیت (personality) یو برخه دي چه په ساپوهنه (Psychology) کښې د اسې اندازه او تمل کیدلی شي چه سړی په ټاکلي وخت کښې ټول هغه مانا لرونکي لغتونه چه په ټاکلي توری د مثال په توګه په "ن" پیل کیږي لیکي. لکه ننګ، لور، لوی، لوم، نر،



او داسې نور - هغه څوک چه سړی زیات لغتونه ولیکلی شي وائي وائي هغه ئې د روانې ګړېدنې توان زیات دی او هغه څوک چه زیات چې سړي د روانې ګړېدنې توان (بلاغت) لري هغه ئې د روښانې ګړېدنې توان (فصاحت) هم زیات دی - په ۱۹۷۶ ع کال کښې موږ د بریکلي پښتونخوا د کوټه د صوبې په ښوونځیو کښې د هوښیارتیا (Intelligence) د لوی څېړنې (Research) څو کښې د نږده کوونکو څخه غوښتنه وکړه چه ټول هغه لغتونه چې مانا ولري او په "ک" پیل کیږي ولیکي او لس دقیقې وخت موږ ورته ورکړ. د څېړنې په بله ورځ موږ بیا د نږده کوونکو څخه د ټولو هغه لنډیو د لیکلو غوښتنه وکړه چه دوئ ته یادې وې او لس دقیقې وخت موږ ورته ورکړ د څېړنې په نتیجه کښې ثابته شوه چه د لنډیو شمیر او د لغتونو د شمیر په منځ کښې چه په "ک" پیل کیږي - دوه اړخیز مثبت اړیکې شته دي - یعنې هغه څوک چه ډیر لغتونه لیکلي و هغوئ ډیرې لنډۍ هم لیکلې وې - دا ددې مانا لري چه د لنډیو د شمیر په واسطه سړی په پښتني ټولنه کښې د روانې ګړېدنې توان اندازه کولی شي - خو لنډۍ یوازې د روانې ګړېدنې د توان د اندازه کولو لپاره نه بلکه د پښتني کلتور او دود دستور سره د سمون اندازه هم را په ګوته کوي.

هغه څوک چه د چا زیاتې لنډۍ یادې وي هغه د پښتني

ملتوب په دننه کښې پاتې شوي دي او هر څومره چه د چاپېرې لنډي يا دي وي او يا ئې حصه ويا دي نه وي هغومره د پښتني ملتوب څخه لري پاتې شوي او پردي شوي دي. دا کښله (فرضيه) د هغو پښتنو په کتنه ولاړه ده چه د پښتني ملتوب څخه لرې د پښتو نخوانه بکهر ځيږږلي دي او په پښتو خبرې کولې شي. خولسه کړي يا دي نه دي

سر بېره پردې د يرتن د لنډ يو مش د هغه د سمېټوب (Persnality) هندازه

## افسونځي

[1] ستورې په پښتونخوا کښې : لومړی ټوک ، خېروتکي ستورې خپل چاپ
جرمني ۱۳۵۴ ، لومړی ټوک ، مخ ۱۱۸

[2] Friedrich Engels : " Der Ursprung der Familie des Privateigentu m und des Staat ", Dietz verlag Berlin 1974. S96-113

[3] عبدالحي حبيبي ! د پښتو ادبياتو تاريخ دوهم ټوک ، پښتو ټولنه ۱۳۴۲ ، مخ ۲-۸

### خواخوږی

په خفقان سره موخبر لاس ته راوړی دی چه سيد آغا د قيق دکامی د د روند سريتوب عبدالحکيم خان هوئ د ۱۹۸۹ کال داکتوبر مياشتې په پاتې بش په پيښور کښې د زړه د دريدلو د ناروغۍ له کبله وفات شويدی. خدائي بخلي سيد آغا دقيق يو ورياني او بياوړی پښتون و ، چې پت ، ننګ او ميړانه ئې د مونږ په زړو لو کښې پرته ده . مونږ کوند د خدائي بخلي د روح ته دعا کوو او د کور ځدر سره ئې خواخوږی او همدردی ښکاره کوو .



## لوی زلمی

[4] سوات : د پښتو د روند مشر محمد افضل خان (خان لالا) وئيلي دي چه پښتانه نسلي ، ژبني ، مذهبي ، ملتوري ، جغرافيائي او اقتصادي وحدت دی. خو بيا هم د ديو د ندګر ښې دلاسه نيمائي پراته دی. د دی تقسيم باوجود د پښتنو شپو تکي په دې مجبوره دي، چه د ژمې به د دې ګرښې نه را تيريږی دېښون او د ډيره اسمعيل خان ته به راځي چه تاريخ کښې ورته ميران وائي. او د اوړی به دوئ د ګرښې نه پورته اوړې او ژرمزار او هلمند پورې به ځي دا ګرښه چه انګريز سلګونو کالو مخکښې راښکلې ده خو خلوبښت کاله کيږي چه انګريز په خپله جزيره ورننوتلی دی خو مونږ هغې تقسيم پراته يو. زمونږ مرام او هدف د پښتنو يوالي او وحدت دی.



محمد افضل خان "خان لاله"



**کونړ** : د افغانستان د کونړونو د ولايت د مشرانو قومي جرګه د دغه ولايت د خلکو د ښه والی ، ارامی او ابادی د پاره د ۱۳۶۸ لمريز هجري کال د دهمې دمياشتې په لسمه نېټه جوړه شوه.

ويل کيږی چه يوه غنته قومي غونډه کښې چه د کونړونو د ولايت ګڼ شمير سپين ږيرو ، ملکانو روښان فکره او مشرانو ګډون کړی و برخه اخستې وه د مشرانو د قومي جرګې رئيس عبدالجليل "ملنګ" د افغانستان داولسي جرګې د يار لسمې دورې وکيل او مرستيال ئې محمد عمر خان د افغانستان د اولسي جرګې د لسمې او يوولسمې دورې وکيل دي او په اتفاق سره وټاکل شو



د پښتنو نخوا ستر فيلوسوف غني خان

دائي :
لعبه جوړه ابراهيم کړه     زه جوړ کړی يم الله
اوس لو خوک لوی شو اوچت شو؟     وايه وايه اې ملا



## پښتون څوک دی ؟

هر تعليم يافته پښتون ته ښکاره دی چې پښتو ويلای شي او نه وی لوستلای شي او ونيا په ولږای شي لوانړې په دي چې زه محمدزی ، پوپلزی ، اڅکزی ، افريدی يا کاکړ يم پښتون کيدای نه شي څوک چې ځان پښتون ګڼي بايد پښتني ملتوب اوکړه ورته ژړه ورته وی. او عمل په وکړی. څوک چې خپله ژبه هيره کړی لو هغه ټول هغه څه چې د هغې ژبې په لمن کې ئې وده کړې وی لکه پښتون واله ، پښتنی کلتوب اوکړه ورته اولور په شعوری او غيری شعوری توګه دلاسه ورکړيدی لبس دائې چا ته پښتون نه شی ويل کيدلای -

يا هغه څوک چې په پښتو ژبه پاندی نه ګړيږی او يائې په ګړيد شرميږی او په غېره توګه ئې په هر ځای کښې نه شي ويلای لو داسي څوک نه ليوازی د چا پښتون نه دی بلکې د پښتنو دلښو نمې ماړه دی - ځينې بي شعوره پښتانه (لکش په نوم پښتانه) چه د پښتني غرور خاوندان نه دی لو تل د پردو پښتني کوی د هغوی د پاره په پښتوکی يو متل دی چې "سماړکه د زړه کې تنګ ماوه خپل ئې هير شو" يعنې د واړی ئې ختا شوی دا دسی پښتنی کارونو شمير ډيريږی داځکه چې په پښتنوکی بې علمی ډيره ده او بې علمه او ناپوهه خلک د خپلې ژبې په قدر نه پوهيږی . بيا هغه څوک چه پرخپل پښتون ورور پاندی لښکر راواخلي او دی ئې وژنې ، خپله وياندارو کونډه او بچي ئې يتيمان کړی او يا داچې په خپل پښتون مشر پسې نه ځی او د پردو ملاتړ کوی داسی کسان پښتانه هم وی خو د پښتنو او پښتنو نثرډی دوښمنان دي - ژبه ، مور او پلار ، هيواد او اسلام د لوی پښتني مانيږ خلور ديوالونه دی - که د دی څلورو ديوالو څخه يو نه وی لو پښتنه مانۍ لوڅه او ويجاړه ده. هغه څوک چه د خپلې ژبې او احترام نه سري لو د هغه د مور او پلار او همدا رنګه د هيواد او اسلام د احترام خوند هم نه شته . ځکه دالمو لو مونږ خپله ژبه پيژندلی دی. لبس څوک چې د خپلې ژبې درنښت په شعوری توګه و نه پيژني هغه پښتون کيدای نشي

داچه ځینې کمزوري او لوړکسان ولیوه ښتنتی پښتانه ته کینه کوونکي (متعصب)
والئ ځکه چه هغه په خپله ژبه کمزوري او په مینه په پښتو کړیږي. نو داسې کمزورو
او لوړوته باید وږه ګوته شي چه پرځای کینه (مثبته کینه) باید لوړوندې الساني
حسي او ضروري ولري او داخو کوم عیب نه دی. بلکه دخپلې ژبلې دپرمختګ لوازمي
لاره ده. ځکه چه پرځای کینه ونه لري دهغه که ژوندی هم وي مړ دی. دمثال
په توګه که چیري دلیوه پښتانه پدې چې لوړو ملتو ژبلې رسیدلي او علمي ژبلې دي
او دده ژبه وروسته پاته ده کینه ولري نو هغه لښتون که ژوندی هم وي خو
لپښتو او لپښتنو دپاره مړ دی. کینه دلته دهغې لري چې سړی هڅه وکړي
چه خپله ژبه دنړی دلوړو ژبلو په کتارکې ودروي نه داچه دلوړو ژبلو ته
په سپکه سترګو وګوري او یا خپله ژبه هیره کړي.
که چیري دچاپه دې کینه ولري چه دنړی لوړ هیوادونه منځ ته تللي او زمونږ
هیواد دنړی دهیوادو په آخیری کتار کې ځای نیولی دی. او دې علمي او جهالت په تیاره کې
ورک دی او په دې هڅه کښې نه وي چه دخپل هیواد دآبادی لاري چاري دسنجوی که ژوندی هم وي
زمونږ دهیواد دپاره مړ دی. لس پرځای کینه دلیوه ژوندي پښتانه دلاري ملګري ده.
سړی باید هڅه وکړي چه ډیرې پردې ژبې زده کړي خو خپله ژبه ئې باید ترټولو لوړو
ژبلو سره زده وي لیعني داچه دپردو تر ژبلو سره لوستل، سنی خبري، او سنه لیکل په
وکړای شي او پر منځ تللي ژبلې زده کړي. ددې دپاره چې خپله ژبه په علمي لو برانه کړي.
سړی باید دنړی ولټولو ژبلو او دهغو ویونکو ته احترام ولري خو ډېر احترام او
درنښت باید دخپلې ژبلې او دخپلې ژبلې ویونکي ته ولري او ورکړي.
المانیانو، انګلیسانو، روسانو او نورو ډېرو پرمخ تللو ملتو خپلو ژبوته کار
کړیدی. دوی خپلې ژبلې په علمي خزانو ډکې کړیدي. هر سړی هڅه کوي چه د دوی ژبه
زده کړي. ددې دپاره چې دهغو دعلمي خزانو څخه ګټه واخلي. دوی پر هیچا باندې
زور نه اچوي چه دوی ژبه زده کړي. نو که چیرې مونږ خپلې ژبلې ته کار وکړو او د
علمي خزانو څخه ئې ډکه کړو. هغه وخت به نور خلک هڅه وکړي چه زمونږ ژبه زده کړي.



دپیسو او علم خاوندان په هر ځای کې ملګري او ملاتړ کوونکي لري مګر پښتانه دا دواړه نه لري
نو که چیرې پښتانه پر خپل ځان اعتماد ونه کړي او په ټولګه وخپلې ژبلې ته کار ونه کړي نو دوی
(پښتانه) او د دوی ژبه به د مینځه ولاړه شي ترڅو ورځې پورې چا زمونږ او د زمونږ
د ژبلې سره زړه سوی او خواخوږي نه ده کړې پرازې مونږ یو چې خپلې ژبلې ته به کار
کوو د دې دپاره چه ژوندۍ ئې وساتو. مونږ باید خپله ژبه په علمي توګه غني کړو
که چیرې مونږ د زړه د اخلاص او په پاکه پښتني مینې د پښتو دپاره کار وکړو.
(هر سړی دخپل واک په اندازه) نو خښتن تعالی زمونږ مرسته کوونکی او ملاتړ کوونکی
دی او خپل هدف ته رسیدونکي یو. لکه رحمن بابا چه وائي ،،
ے چه غوټې پلېسي وهي پلاس به دره شي. چا ویل چه په دریاب کې ګوهر نشته.
لکه چه وائي چه حرکت کښې برکت دی. نو که مونږ په هر ځای او هر وخت
کښې دپښتو دغني کولو دپاره کار ونه کړو او غوټې پلېسي ونه وهو نو ګوهر (دپښتو
ژوندۍ پاتې کیدل) زمونږ څخه پاتې شو.
زمونږ ژبه دوه ډوله دښمنان لري یو ډله ئې په غیري شعوري او بله ډله ئې په شعوري
ډول د پښتو او پښتنو له مینځه وړل غواړي. هغوی چه په غیري شعوري توګه
(پدې ډله کښې کمزوري هم حساب دي) دپښتو او پښتنو سره دښمني کول غواړي دهغوی
سره باید سړی وګړیږي بحث ورسره وکړي سترګې او ماغزه ئې ورخلاص کړي.
او هغه ډله چه په شعوري ډول دپښتو او پښتنو دمینځه وړل غواړي او دښمني او ورځې
پدې هڅه کې دي. دهغوته هم باید په علمي او سیاسي توګه داوښودل شي
چه مونږ نه غواړو نور ستاسې تیري ورغمو، پښتانه اوس ویښ دي او
نور نه غولیږي.

لا تر اوسه ئې ماغزه په قرار نه دي
چاچې ما سره وهلي سر په تنګ دی
،،خوشحال بابا،،



لیکونکی: جوسا

# د هیواد نامتو خیبری

دهیواد له نامتو خیبرو څخه یو هم دهیواد اتل ښي جنرال خان محمد خان ،،ګنړی،، وو.
چه حاجي ګل روزخان زوی وو. او په کال ۱۸۹۷ کښې د پښتونخوا پر مردان لوی
سیمه کښې زیږیدلی وو او په تمام د تیراه له آپریدو څخه وو. دهیواد دغه
توریالي جنرال دافغان اولس د پښتني بیک په وړاندې ئې دیاد وړ ساري چارې
ترسره کړیدي. چه د افغان اولس راتلونکی نسل به ئې هیر نه کړي.
دهغه ګټورې او غزاګانې چه دغه مبارز جنرال له یرغلګرو او ښکیلاګرو انګریزانو
سره کړې پدې توګه دي لکه دارلوي غزاء، د پیتاو غزاء، د تني غزاء
دګندائو غزاء او سره غزاء ده. چه تر ټولو غزاګانو ئې نامتو غزاء دارلوي غزاء
ده. چه په کال ۱۹۱۹ کښې پای ته ورسیده. دهیواد دغې توریالي ښي تل ئې دپښتني پیښلیک
بیک په اوږدو کښې دهیواد کوري او لیکوالي علیمان ئې دخپلې تورې په مرسته
له سختې ماتې سره مخامخ کړیدي او دتل دپاره غاښ ماتوونکي ګذارونه ئې
ورکړیدي او په هر سنګر کې ئې ځپلي دي. او تل ئې دهیواد خپلواکۍ غوښتونه
او لوښتونه دبرې په لور بیولي دي. دهیواد دغې نامتو ښي دخپل هیواد په
سمسورې او دخپل ولس دسوکالۍ په وړاندې هم ستر خدمتونه ترسره کړیدي.
داماني په ځلانده دوره کښې دکنړولو ولایت دپیچ دره کې په نامه لوی سیمه
کښې یو تل جوړ کړی وو. چه تر اوسه د دغه نومیالي خیبري په نوم یادیږي.
په کال ۱۹۲۱ کښې دغه باتور جنرال دپیچ په لیسګلام کې حاکم وو. او په کال
۱۹۲۲ کې داماني په سلطنتي دوره کښې دامام صاحب په ولایت کښې حاکم شو.
دننګرهار ولایت ښو ښو او هلاګوله چه په اماني دوره کښې مینځ ته راغلل او دغه
ستر ښوونځی او هلې ګوې ددغه ستر نګیالي جنرال په مرسته له سختې
ماتې سره مخامخ کیږي. او د پر دویمې نړیوالې څخه علیمان ئې دمرګ کندې ته
ګذار کړل. ددغه توري په وړاندې.



د امان الله خان له خوا ورته دجنرال منصب دغه توریالي سرتور ته ورکول کیږي
دی نومیالي هیواد پالونکی ښي ته دامان الله خان غازي له خوا د هري توري
په وړاندې ئې ستر دستر ورونښي (میډالونه) او ستاینلیکونه ورلیږل
شویدي.
دهیواد دغه نامتو ښي امان الله خان غازي ته دکنړونو په نورګل لوی سیمه
کښې میلمستیا کړې وه. چه پدغه ستره میلمستیا کی دغه هیوادپال جنرال
له امان الله خان څخه غوښتنې وکړې چه یوه غوښتنه او هیله ئې د
،،چلویک،، دکونړ (اهلي) هیواد ته دمالیې له مینځه وړل وو. چه
دغه غوښتنه ئې دامان الله غازي لخواء ومنل شوه. او نورې غوښتنې
ئې دهیواد په ښتیځو برخو کښې درو غتونو جوړول، ویالو، ښوونځیو، بندونو
او مدرسو جوړول وو. او دغه ټولې غوښتنې ئې نیمګړې ترسره شوې.
ځکه چه دهیواد پلرونکو دهلوګولو او شورشونو له کبله دغه هیلې ئې د
هیواد دسمسورې او ودانیدو په وړاندې ترسره نشوې. دغه نومیالي
خیبره دافغان پښتني بیک په وړاندې نه هیریدونکې ځلانده خیبره ده
او دراتلونکي پښتني پیښس بیک په پالونکیې به د دغه نامتو خیبري هغه
ستري تاریخي دندې په زړین ټکي ولیکل شي چه دهیواد دخپلواکۍ د
لاسته راوړلو په برخه کې ئې ترسره کړیدي. د پښتني بیک دغې ستري
خیبري په کال ۱۳۵۹ هـ کې سترګې ئې لدې فاني نړۍ څخه دتل دپاره
پټې کړې. پاک روح ته ئې دې درود وي.


**د پښتنو لویوالی او خپلواکۍ دسولې ټینګښت دی**

(ستوری)

# ګلونه تکلونه

ای پښتو هیر نکړې دا ستا سو ملنګي خټک

وخت به درنه دا سې لیونی کوي بیا هم نوا مړی



اجمل خټک

وائي:

ترڅو چه مو د مشو یو قوت جوړ نړی نه ※ خبره مو مکړو په قسمت شمیري نه

آسمان ښئي پاس پردی ودیځ کوو د خوشحالیږو ※ یوه هم لاډونږه په بتی ودیږي نه

دا ژوند خو د عمل دی، د حرکت دی، د قوت دی ※ قسمو په دعاو او په منت زنیږي نه

بهرام شه ملادی وتړه تکل وریسی وکړه

له دیوه ګل اندامه په زارو کم فلا میږي

(د خټک د ګلونو تکلونو د کتاب څخه)



ګل غوټۍ کنړی

# د ترغونتوب ښکلوونکی

زه په خپل وخت کښې د ترغونتوب ښکلوونکی وم. دا د څه پاره په حیرانتیا را ته ګوری زه خو ستا ترغونی مور یم. دا د خپلی هغه مالی ګوچې نړ یمی مور ښندته وکوی چه خپل دور کښې د نړی دهیواد ولو د ترغونتیا د ښکاره ولو ښکلونکې وه.

هو.... زه ماورو ستا پاتې بچو: د لوړی مور د حیرانوونکی ترغونی ځوانی د ښکلا کسی به مو د ځینو ښینس لیک پو هانو نه خولی څخه اوریدلی وی.

دانن او روم د ترغلو نا وو څخه می ښکلی اغلی ځوانی دړلوده. زما د ترغونی ښکلی ځوانی ښند اری تیا د نړی له ګوټ ګوټ څخه انځور رانلل او زما د ترغونی حیری ښکلا به ئې انځوړ ولده.

زما ویدو بچو مړو! ارمان راځي تاسي زما د ترغونی ځوانی له ه برخه ښکلا له ځانه څه انځوره نه کړه او مله چه زما مور مو له پښتو څخه وغوړ ځیده.

د مور پالنه مو ونه کړه. دانن او روم د دوا یمو ترغولو میا خدو پالنه د خپلو ویښو اولاد و نوله خوایه ښه توګه سره وشوه.

تاسو ما ته دیوی ترغونی مور په توګه دړنا وی ونه کړه. څه د وخت په تیریدو څه له خپلو بانړو څخه بیرلوتم. تاسو هم د مور ولی پا ملرنه را ته ونه کړه. ښه پلیسی له پښتو وغوړ ځیدم.

هو کی ..... مامی د خپلو بچو نا پوهی تر یمه وی.

نوی وړځ زما خو زو لبچو خپل ګمر غلیم ونه پیژند. حقه غلیمان چه دوی په خپلو مینځو کښی لو وروړ په بل وروړ وژړلی. او ګلونه ګلونه د نړی ښکیلا کی ځواکونو تاسی له ناپوهی او وروسته پاتی والی څخه ګټه اخستی او استا په ژوند لوبی کوی. لیکوله مو وروسته پاتی ساتی او وکړی مو تل خوار او په فقر لوږه کی ساتی. زما په چاپیریال کښی مو مړ چلی جوړ کړیدی. که څه ښی نښانی می د ترغونتیا پاتی دی. حقه تاسی بخپله له مینځه وړی. دا د څه لپاره ما سره د توغند یو غرګی جنګ کوی. خپله ترغونی مور د ترغونبیژندنې مور په وړځ داسې لمانځنه ځنې کوی؟



ګرانو خوږو بچیمو خپلې ګمر غلیمان سره او تور سره وپیژنی. خپلی سیمی او تو دی ځنګړی په تاسو باندی کوی. د دوا یمه لوی قدر تونه خپلی بدلی په تاسو باندی اخلی. د ورور وژنی څخه لاس واخلی لتول یو موټی شئ د ګوټی او ورور یما لاسونه سره ورکړی خپله ورانه جوړه کړه هر خپل لاس سره جوړه کړی او تل ئې سمسوره ساتی. د خپل خوار اولس او وروسته پاتی هیواد په درد وسوځی. غو ږمه یدلی لتولنه مینځ ته راوړی د اولس د سوکالی او هوسائی په ورانډی نه ستړی کید ونکی هلی ځلی وکړی دغه زمایوا ځنی هیله ده د مور والی له تاسو خوږو بچو څخه زړه ته را نږدی بچو زه تاسو ونه پیژندم زه ستاسی مور ترغونی دهمڅه یم.

## مستی

دا مستی د میونده ، د ځوانی جوش پاریدلی

که په میو کښی مستی وی ، نو دا خم به ګڼه یدلی

مستی نوم د حرکت دی ، حرکت نوم د ژوندون

چه روان وی حرکت کړی ، داسی سړی چالیدلی؟

په مستیو اتنونو ، د منزل په لوری ځمه

سر ځغره دی په نړی کښی ، چه مستی نه وی لویدلی


د مستی نه به وانه وړم ، حرکت کوم خو ځیبرم

خوک چی تللی او روان وی دی منزل ته رسیدلی

د پښتو په مینه مست یم ، پښتو نواله می ژوندون دی

رڼا ستوری د پښتو یم ، په کونسه کښی ځیږیدلی

"ستوری"




که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی

(باچاخان)

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt
(Batscha chan)

Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)